AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر
۲۰۲۰/۰۹/۰۷

# سوله، د سولې ډولونه او سوله په ادیانو کې

## (درېیمه برخه)

**سوله د مسلمانانو تر منځ:**

که اسلامي هېوادونه، دوه ډلې یا دوه تنه مسلمانان چې د بېلابېلو عواملو له امله سره نښتي وي، نورو مسلمانانو ته په کار ده چې منځګړیتوب وکړي او سولې ته یې اړ کړي، په دې هکله رب العالمین داسې هدایات رالیږلي دي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ﴾

ژباړه:«مؤمنان سره ورونه دي، نو د ورونو تر منځ سوله وکړئ.» (حجرات: ۱۰)

کله چې له دوو لورو څخه یوه یې وروسته له سولې، بیا جګړه پیل کړي، هغه درېمګړي ډله مسلمانان چې د جګړې دوو ډلو تر منځ یې روغه جوړه کړې ده اړ دي چې په تیري کوونکي ډله باندې په زور سره د سولې ټړون ومني، قرآن کریم فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ﴾ (۷: ۱۷۰)

﴿وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾

ژباړه:«او کله چې له مؤمنانو څخه دوې ډلې په خپلو کې په جګړه شي نو د هغو په منځ کې سوله وکړئ. بیا که له هغو څخه یوه ډله پر بلې تېری وکړي نو له تیري کوونکو سره وجګړېږئ تر دې چې هغوی د الله حکم ته راوګرځي نو د دوی په منځ کې په عدل سره سوله وکړئ او عدل وکړئ چې الله انصاف کوونکي خوښوي. (*)» (حجرات: ۹)

او خدای تعالی د قرآن حکیم په لاندې آیتونو کې د مسلمانانو د یووالي او ترمنځ یې د سولې په تړاو مؤمنانو ته ښوونه کوي چې د سولې لاره خپله کړي، د شیطان په لاره ولاړ نه شي چې هغه د جګړې لار ده:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو ټول سولې ته داخل شئ. او د شیطان په لاره مه ځئ، چې هغه ستاسي ښکاره دښمن دی.» (بقره: ۲۰۸)

حضرت مولانا جلال الدین محمد بلخي وایي:«وینه پر وینه نه مینځل کیږي.» په دې مانا چې جګړه په جګړه له منځه نه ځي، ځکه چې لا نورې وینې توییږي، که د جګړې ګټونکي یو بې ګناه کس وژلی وي، د ټولې نړۍ اوسیدونکي یې وژلي دي، په دې بنسټ جګړه ګټونکی نه لري، د جګړې ظاهري ګټونکي په حقیقت کې بایلونکی دی او د سولې په نتیجه کې که یو کس له مرګه وژغورل شي لکه د ټولې نړۍ انسانان یې چې ژغورلي وي. (د مایدې سورت: ۳۲ آیت) او څوک چې یو مسلمان بې موجبه ووژني سزا یې جهنم دی:

﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾

ژباړه:«هر هغه څوک چې کوم مؤمن له پوهې او ادراک سره، سره ووژني، نو د هغه سزا دوزخ ده چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړی دی.» (نساء: ۹۳)

لوی ښتن مسلمانانو ته د یووالي او وروری امر کوي چې په خپلو کې سره یو موټی او یو لاس وي، ترمنځ یې شخړې نه وي تر څو د خپلو دښمنانو پر وړاندې ځواکمن پاتې شي او په سوله او امن کې ژوند وکړي، په دې تړاو کلام الله مجید داسې فرمایي:

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژباړه:«ټول د الله رسۍ ونيسئ، تيت پرک مه کيږئ او د خدای هغه (لوی) نعمت درياد کړئ چې څه ډول د يو او بل دښمنان وی او [الله] ستاسو په زړونو کې مينه واچوله او د هغه [الله] د نعمت په برکت سره ورونه شوی، تاسي د اور د کندي پر څنډه ولاړ وی، الله تاسي له هغه څخه وژغورلی، دغه شان الله خپلي نښاني تاسو ته څرګنده وي، شايد هدايت منونکي شئ.» (آل‌عمران: ۱۰۳)

﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾

ژباړه:«د الله او پيغمبر امر ومنئ، په خپلو کې شخړه مه کوئ تر څو خواک او برم مو له منځه ولاړ نه شي. له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی.» (انفال: ۴۶)

﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۖ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

ژباړه:«نو له الله څخه وويرېږئ او خپل منځي اړيکي سمي کړئ. د الله او پيغمبر اطاعت وکړئ که تاسو مؤمنان يی.» (انفال: ۱)

**د سلام کلمه د سولې نښه (سمبول):**

د هر دين لاره ويان خپلي ځانګړي نښي نښاني لري د مسلمانانو تر منځ د سلام کلمه د سولي لومړنی نښه ده چې د سلامتی، آرامی او نه جګړی کولو پيغام رسوي، په مسلمانانو باندي لازمه ده چې يو بل ته سلام ووايي (د نورسورت: ۲۷ او ۶۷ آيتونه) او مقابل لوری يې په سلام سره ځواب ورکړي، موږ هره ورځ په پنځه وخته لمنځونو کې پر خلکو او نورو موجوداتو باندي سلام اچوو او د خدای (ج) عبادت په سلامتی سره پای ته رسوو.

د لوی ښښتن له مبارکو نومونو څخه يو نوم (سلام) دی، د پيغمبر (ع) په يو حديث شريف کې راځي:«د خدای تعالی له نومونو يو نوم سلام دی چې ځمکې ته يې رالېږلی دی، نو په خپلو کې سلام خپور کړئ.»

او د قرآن حکيم د حشر په سورت ۲۳ آيت کې د لوی ښښتن د مبارک نوم سلام يادونه داسې شوي ده:

﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ﴾

ژباړه:«الله هغه ذات دی چې له هغه پرته بل معبود نه شته. هغه پاچا، ډېر پاک، سلام، امان ورکوونکی، ساتونکی، برلاسی، زورور، د لويی ښښتن او لويي کوونکی دی.» (۵۹:۲۳)

﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَامٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَىٰ﴾

ژباړه:«ووايه! ثنا او ستاينه د الله لپاره ده او سلام د هغه پر غوره بنده ګانو دی.» (النمل: ۵۹)

هغه مهال چې ابراهيم (ع) د نمرود له خوا اور ته وغورځول شو نو لوی ښښتن اور ته د سلامتيا امر وکړ چې سوزول ونه کړي او ابراهيم (ع) ونه سوزوي، هغه وو چې اور په سلامتيا باندې بدل شو، فرمايي:

﴿قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ﴾

ژباړه:(په پای کې يې هغه اور ته واچولو، خو موږ) وويل:«ای اوره! پر ابراهيم باندې سوړ او سالم اوسه.» (الأنبياء: ۶۹)

کله چې څوک د جاهلانو سره مخ شي او هغوی مخاطب کړي نو مؤمن کس پر جاهلانو سلام اچوي له هغوی سره بحث نه کوي په درښت او لويی سره ورڅخه تېرېږي دا د سلام د کلمی لوی اغېز دی چې مؤمنان د جاهلانو له شر څخه ساتي په دې هکله رب العالمين فرمايي:

﴿وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا﴾

ژباړه:«د رحمان بنده ګان هغه دي چې پر ځمکه په ورو (بې کبره) درومي، که جاهلان يې مخي ته راشي سلام پرې اچوي.» (الفرقان: ۶۳)

﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ﴾

ژباړه:«کله چي ناوړه خبره واوري، مخ تر اړوي وايي: زموږ عملونه زموږ لپاره او ستاسي عملونه ستاسي لپاره، پر تاسو سلام دی موږ د جاهلانو غوښتونکي نه يو.» (القصص: ۵۵)

دغه شان که په جګړه کې داسې کسان چې ونه پېژندل شي چې دوست دی که دښمن او هغه سلام درکړي نو د **سلام** اچولو پر بنسټ هغه کس له مرګه ژغورل کيږي او مسلمانان حق نه لري په هغه کس باندې بريد وکړي دغه ډول يوه پېښه د اسلام په لومړيو کې رامنځ ته شوي وه داسې چې د پيغمبر(ص) لخوا يو لښکر د جګړې لپاره ولېږل شو، په هغه سيمه کې د هغه قوم يو سړی چې(مرداس) نوميده له خپل مال سره له کفارو جدا ولاړ ؤ، کله چې مسلمانان ورنږدې شول نو **سلام** يې پرې واچولو، مګر اسامه بن زيد داسې ګومان وکړ چې دا سړی د خپله مال د ساتلو لپاره سلام اچوي او ځان مسلمان معرفي کوي، نو هغه يې ووژاه. کله چې رسول الله(ص) له دې پېښې خبر شو، سخت خواشينی شو او په هغه صحابي باندې په قهر شو، هغه ته يې وويل: «آيا تا د هغه زړه څيرې کړی ؤ؟» چې کافر دی که مسلمان. (کابلی تفسير: د مديني چاپ) او د دې پېښې په تړاؤ باندي دا آيت شريف نازل شو:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو! کله چې د الله په لاره (جهاد) کې سفر کوئ نو ښه تحقيق وکړئ او مه وايئ تاسي هغه چا ته چې در واچوي تاسو ته **سلام**، چې ته مؤمن نه يې غواړې تاسي مال د دې حيات دنيوي، نو له الله سره ډېر غنيمتونه دي، هم داسې وې تاسي (هم چې يواځې د اسلام په اظهار سره مامون شوي وی) پخوا له دې نو فضل وکړ الله په تاسي نو ښه تحقيق کوئ، الله دی په هغه څه چې تاسي (يې) کوی ښه خبردار.» (سورت نساء ۹۴، آيت)

سلام اچول په خپله کورنی باندې او کله چې پرديو کورونو ته وروسته له اجازې ننوځې نو پر هغوی باندې سلام واچوئ، ځکه چې په سلام کې لوی ښتن برکت او پاکي اچولي ده چې کله دې سلام ووايه نو ستا د هر ډول پاکی، ښه والي او سلامتی څخه استازيتوب کوي چې مقابل لوری په درنښت او عزت درته ګوري، په لاندې آيتونو کې راغلي دي:

﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾

ژباړه:«او کله چې کورونو ته ننوځی، پر خپلو کسانو سلام اچوئ (سلام) د الله له لوري له برکته ډک او پاکيزه سلام.» (نور: ۶۱)

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾

ژباړه:«ای مؤمنانو! پرته له خپلو کورونو، نورو کورونو ته بې له اجازې مه ننوځی او د هغه کور پر اوسيدونکو باندې سلام واچوئ، دا ستاسو لپاره ډېره ښه ده شايد پاملرنه وکړی.» (نور: ۲۷)

---

(*) د قرآن حکيم د دغه آيت شريف سره د ملګرو ملتونو منشور (۱- ۴۱ او ۴۲) مادې سمون خوري، د نړيوالي سولې او نړيوال امنيت د ټينګولو په تړاو د ملګرو ملتونو منشور چې (۱۱۱) مادې لري، په لومړی ماده، لومړی فقره کې د نړيوالې سولې او امنيت ټينګول او پلي کول راغلي دي او په (۴۱) ماده کې د سولې رامنځ ته کول په سوله ييزه توګه او په (۴۲) ماده کې د سولې ټينګول د نړيوالو ګډو ځواکونو له خوا په زور سره ترسره کيږي.

محمد انور آخړ
۱۳۹۹/۶/۲۵
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ